لیکونکی : کریس ورایت (chris wright)

منبع او خپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ «2018-08-09»

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل »

-----------------------------------------------------------------

# پانګوالی دآزادی په مقابل کې

## Capitalism VS Freedom

## پردغه کتا ب با ندي یوه ځغلنده کتنه




امریکا یی فرهنګ دسوداګری اود راکړی ورکړی تر اغیزی لاندي د یو درونډ فشار راوړنکی خورا مهم ا وغملرلی حما قت ځخه رنځ وړي ، کله چی مجموعی لوی موسسا ت په ارتجاعی توګه سره دلوی سوداګری اویا دکسب او کا ر په عنوان پردولت او رسنیو با ندی په واقعی ډول سره ا نحصا ر لری کوم چی د همدی انحصاری واک په لرلوسره دعقلانیت اودپوره پوهاوی ددرک دپاره ډول ډول اطلاعا ت مشغولتیا (سرګرمی) تبصری ( commentary) اید یو لوژی ا و تعلیمی پالیسی دیو

لاربنود یا دیورهنمود په بنه سره نه  په کا ر ولویږي   یا دی ته مجا ز نه ورکول کیږی چی پر موضوع باندی  په عقلانیت  سره پوها وی تر لاسه شي .
هغه څه  چي  تاسو سره هم به  پای ته ورسیږي ، دبیلګی په توګه  په انتخاباتو کی کوم چي (25) سلنه دهغه غږی بلکل فردی آزادی ته تما یل لري ا ودغه فیصدی  لا  په ځوانانو کی هم زیا ت دی او هغه په دی معنی چی زیات خلک دکاتو(Cato)  د مو سسی په تبلیغات ، د(Reason)  مجله ، داین رند (Ayn Rands) رومانونو اود**میلتون فریدمن** هکرونو   ، په خپل تظاهراتو ، سرغړونو  اوضد اقتندارګرایی  کی دافراطی  ډلو پلویان په عنوان باندی او نوام چامسکی په نقل قول   ، لیکنی او ژبا ړنی  څخه  دباورونو  د تر په لاسه کولوسره غواړی  چی قدرت  باید خصوصی استبدادی کړیو او حلقو ته  ورکړل شی  یعنی  چی واک خصوصی ، غیر قانونی مستبد ینو ته ولیږدول شی  یعنی شرکتونو ته- هغوی داسی فکر کوی چي که چیری تا سی قدرت  ددولت  له لاسه وبا سی  او پوره اجا زه  پانګوالانو ته ورکړی  چی هغوی  په آزادنه بڼی سره  بی  دمقرراتو  په نظرکی نیولو اوبی دکارګری اتحادی  له نظارت  څخه کړنه ترسره  کړی دابه  په نړی کی ډ یر ښه اوبهترین کړنه به وی اما هغوی په ریښتیا سره په دی با وردی چی ددی ډول برنامی په پلی کولو کی  تخریب او انارشیسم رامینځته کیږی ؟
د ملیونو کسا نو لړ لید کوم چي ځا ن دی ډول ساه نیونکی احمقا نه اید یولوژی پوری تړلي دی حیرا نونکی  بریښی لکه هومره چی  دغه نظر او یا ا ید یولوژی  غملړلی  او تراژدیکی دي.  زه یو خدا نا شنا س (Atheist) یم  اما مسیحت د یو  اخلا قی او عقلانی مذ هب  په توګه نسبت  ودغه (لیبرتاری )  « نیولیبرال» ریښتینی  «توتا لتاریسم» کوم چي  یو له مطلق  با ورونو څخه یی  خصو صی سا زی ، ما رکیت سا  زي ،   شرکت سا زی ، کوموديزيشن (commoditization  =  یو کا لی د بل کا لی سره بد لول  دی اوداځکه چي کا لی په تجا رت کی یو اصلی محصول دی  چی د خپل  ورته  کا لی سره بد لیږی ) دی  چی د **لیبرتا ریا ن** (Libertarian = دفردی آزادی پلویان)  پواسطه سره له بده مرغه ، مد رن تاریخ ، اقتصا د  ،عرفا نی ټولني پیژند نه ، انسا نی روانشنا سی ، اوخپله اخلاق  نا لید لی نیول کیږی،[ اخلاق ته په نه پا م لرنی  سره = که چیری طلایی قا نون یوا سا سی اصل  اوسی نو دکمونیست شعار :  «هرچا ته دهغه دتوانایی پر اساس اوهریوه ته  دهغه دنیازپراسا س» کوم چي په ا سا س سره  د طلای قا نون څخه رانیول شوی یا مشتق شوی دی  چی هریو انسا نی ټولنیز سا زما ن ته اصلی اواساسی موضوع بلل کیږی ، حرص اواجتماعی داروینیزم « Darwinism » هرانسا ن ته  د ځا ن دپا ره داخلاقی اصول له مخی روښان دي  ]  د دی ارتجاعی فکری فلسفی  دنا توانی  او ددغه واقیعت  په پا م لرلو سره  چی له تیری بی شمیر اوبی حسا ب  زما نی  څخه رد شوی دی  او  هغسی یو تشویش او واسواس دی  چی هغه با ید یواځی او یواځی نا لید لي وګڼل

شي . اوزیاتره کېن اړخ روشنفکران هغه نا لیدلی ګڼی اما دا پخپله یو تیروتنی او اشتبا ه دي لکه دهمغه انتخا باتی رای ورکونکوشیبی په څیرکوم چی( 25 سلنه رای ورکونکو ) وښودل چی هغوی دفردی آزادی غوښتو نکی دي ، پس لازم شمیرل کیږی چې په هر زما ن اوپه هرځا ی کی چی په نظرراځی دآزاد با زارپرستش مسا بقی ته وکا ږل شی .

اقتصاد پوه **روب لارسن** (Rob Larson) پخپل نوی کتا ب کی چی د هغه عنوان «سرمایه داری دآزادی په مقا بل ) کی دی هغه له دی نه چی د بردګی تول لاری او چاری پخپل دغه کتاب کی توضیح کړی دی نو ډیرخورا ستر خد مت ترسره کړی چی دهمدی اصل له مخی دهغه دکتاب لوستونکی بی شمیره شوی دی یعنی زیات لوستونکی دهغه کتاب لوستل دی چی دغه کتا ب لرونکی د پنځه فصلونو څخه دی او هغه په دی فصلونوکی په ډیر منظم اوسیستما تیک بڼی سره د( **میلتون فرید من ، فریدریش هایک** ) دهغو نظریات او څرګندونی کوم چی هغوی هریوشی ته دعلاج کولو دوا وړاندیز کړی په آسا نی سره دهغو نظریات باطل او له مینځه وړی اویا رد کړی اود همدی ورته نظر یو بل ګروپ د نظرخاوندانو ښی اړخ مومنان نومولی دی لکه ( **لودویک فون میسس آین رند** ،او **موریروتبرد**) .له هغه ځا یه څخه چی د دی کتا ب عنوان ډیرتا ثیر غورځونکی دی یعنی د سرما یه داری پیا م دآزادی په وړاندی یا مقابل کی کوم چی دهغه غږ او یا آوازه با ید دغره له سره وا ورول شی او دا ځکه چي هغه زمونږ د ټولنی دیو موجود قا نون دمسا بقی په لوری سره راکا ږي .ځنی وخت لیبرالان او چپ ګرایان په دی باور دي چي دپانګوالی نظام آزادی ته وده ورکوی اویواځی دا خبره کوی چی تنها اویواځی د سوسیا لیستی مساوات اوعدالت دپانګوالي د آزادی په پرتله خورا مهم دي ، حقیقت خو دادي چي سوسیا لیزم یعنی له ا قتصا د څخه دکارګرانو دموکراتیک کنترول او نظا رت نه یواځی د سرمایه داری په پرتله دبرابری اودپوره عدالت د پلی کولو په منظور دی بلکه کم ترکمه (۹۹) سلنه خلکو ته زیا ت آزادی ورکول دی چی په پای کی دغه آزادی دی چي انارشستا نواوحتی ما رکسیستا نو په شمول دخپله **کا رل ما رکس** ته آلهام ورکوی .

**لارسون** پخپل یو لنډ بحث سره دآزادی له دوه ډول مفهوم یعنی د منفی اود مثبت آزادیو څخه پیل کوي- ( یو توپیر چي بیرته ځي یا یو تما یز په حد اقل بڼی **د برلین اشعیا = په عربی ژبه کي «اشعیا» د( خدای خلاصون ) د تیری لرغونی زما نی له پیغمبرانو اود «اشعیا» د کتا ب لیکونکی ......له ویکی پید یا څخه** ) او په پوره توګه وربا ندي خبري کوي اوهغه داچی *منفی آزادی* یعنی د بهرنی قدرت دمحدودیت نشتوالي دي کوم چی تا سی دی ته اړبا سی چي په ځانګړی رفتا راویا سلوک سره عمل تر سره کړي اما *مثبت آزادی* دا دي چي تا سی خپل تا کلی اهداف اومرام ته در رسید و دپا ره چي خپل برخه لیک وټا کي د توان وړ واقعی فرصتونه باید مو په لاس کی وي. کوم

چې داپخپله مشتمل دهغه وسایلو او ابزارو څخه دی چې دهغه پواسطه تاکلی نیازونه او احتیاجات ترسره کړي ، د بیلګې په بنه کله چې تا سی دخپل ورځ نس دمړیدو یا دلوږي د تسکین د پا ره مواد یا ابزار ، روغتیا یی تسهیلاتو ته لاس رسی او هم په پوره اندازه سره داغوستلو کا لیوځیینتن اووسی - کلاسیک لیبرا لستان لکه **جا ن استورات ما یل** (John Stuart Mill) او نوی یا مد رن محا فظه کا ران لکه **فریدمن او ها یک** (Friedman and Hayek) هغه کسان دی چې د **منفی دول آزادی** نکرا نی لري او هغه د هغوی تما یل داسی توضیخ کوی چې هغوی دیو دول محدود دولت غوښتونکي دي - اما «مثبت آزادی» کیدای شی چې د «آزادي» په عنوان وپیژندل شی مګر سوسیا لستا نو د« **مثبت آزادي** » په اړه سره هم نګرانی لري او هغه داچې هغوی ځنی وختونه په دی با ور دی چې یو ځواکمن اود پوره قد رت خاوند هیواد(مثلا د سوسیال دموکراسی په لرلو سره ) کولای شی چې داکثریتو دآزادی دلرلو دپا ره مرسته وکړي .

**فرید من اوها یک** په دی باور او یا سره موافق دی چې دپا نګوالی دآزاد بازار په حد اقل مداخلی سره د «**منفی آزادي** » ترتیولوغوره ضما نت دي کوم چې د همد غی مسلی په نظر کی نیولو سره دلارسون کتا ب په رغنده بڼی سره دغه موضوع اومسلی د رد ولو دپاره څرکند توضیحا تو باندی لاس پوری کړی دي اما دا پخپله د یو محدود او دیوځه لږ اویا دیو څه کم متنا زع ادعا کول دی چې پانګوالی دیراخ «مثبت آزادي» سره برابرنه دی اویا دهغه په مخا لفت لاس پوری کوي -**لارسون** لیکی :سرمایه داری له آزادی څخه دلذ ت اود خوند وړلوفرصتونه ( د مثبت آزادی له منظرڅخه لازم نیا زاو احتیا جا ت) ردوی یا ورڅخه انکا ر کوي او هم د ا قتصا د دودی د قدرت ( د منفی آ زادی له نظره د آزادی د ښمن ) په هڅوني ورکولو کی زیا ر با سی.

د ا قتصا دی قد رت تمرکز پخپله «منفی آزادی» د پا ره یو ګواښ دي کوم چې شاید کشا لی او یا مسا بقی ته را وکاږی اما دغه د لیل پرته د نورو دلایلو څخه یو ضعیف استدلال دي اودا پخپله بلکل ځا نګړي شوی چې پردولت باندی د ا قتصا دی قد رت د مرکزونو تسلط خپل ګټی لری اوهغوی د خپل د قدرت په زورسره پر نورو با ندي په اجبا ری بڼی سره دستګاه (Apparatus) جوړوی او ځا ن ته دا توان ترلاسه کوی ترڅو چې لا زیات قدرت اویا زور زیرمه کړی ترهغه پوری چې تولنه په نها یت کی دا لیکا رشي پواسطه سره اداره شي ، لذا له «خالص» سرمایه داری څخه ا لیکا رشی د زور په قد رت سره رانیسی .

په هرصورت اوس بلکل روښانه اوواضح دی چې دغه نقطه ممکن دی هغو کسانو ته کوم چې تیولو سره مشترک حس لری په نظر ورسي ، اما دغه امر د (لیبرتاریانو) اود محافظه کا رانو له نظره ډیر زیا ت روښا نه او ښکاره دی لکه هغسی چې په دی مورد کی **فرید من** وایي : « هغه ډول اقتصا دی سا زمان چې په مستقیم بڼی سره

ا قتصا دی آزادی لاره پرانیځی یعنی رقا بتی سرمایه داری ته نو د هغه سره مل سیا سی آزادی ته هم وده اوپراختیا ورکوی اودا ځکه چي اقتصادی قدرت له سیا سی قد رت څخه سره بیلوی او په دي ډول یوی ته توان اوقد رت ورکوی چې نورو جبران اویا متعادل کړی.

مونږ دلته د نا ب معمول ا یدیا لستا نواودمحا فظه کارانو(اوپه واقیعت کی دلیبرالستا نو دکا رپوه اومتخصصا نو) سره په ټکل اوبرخورد کی یو. کوم چی ما د لته په مفصل بڼی سره د ریښتینی وضیعت دتحلیل پرځای دحقیقی تولنیزجوړښتونو پر اصلی حالاتو پرآزادی با ندی د محا فظه کا رانه هوایي ترافیک بند ش ، له سیا سی قد رت څخه دا قتصادی قد رت په بیلولو د رقابتی سرمایه داری په عا لي فضا یلو او په نورو با ندی می بحث وکړ- ښکا ره خبره خو دادی چی **فرید من** ته څه نه راپیښږی اویا هغه ته څه اتفاق نه ولویږی چی ا قتصا دی قد رت ته تما یل لری چی سیا سی قد رت تسخیر کړي اوپه دی ډول دا دوه یود بل څخه په لیری تعا مل کی تقریباً سره یو ځای کیږی ، اقتصادی قدرت ممکن دی چي په مستقیم بڼی سره سیاسی اداره ونه لری ، ا ما دوی دخپل منا بعو په لرلو سره پر سیاسی قدرتمند رهبرانو باندی له حده زیا ت قد رت او تسلط لری دا په شهودی بڼی سره دي اما تجربی څیړنی هم هغه تا یدوی . .

یو مهم مطلب چی دلته دهغه یا دونه لازم ګڼل کیږی هغه دادی چی **لارسون** واقعاً پر هغه باندي چندان نه تمیزی یا وربا ند ي نه متمرکز کیږی هغه په شرکتونو کي آزادی حتی چی «منفی آزادی» په شد ت سره محدود کیږی اود اتحا د یی په غیا ب کی کارمندان په هیڅ بڼی سره حق نه لری اودلته چاته حق نه ورکول کیږی چی پر موضوع باندی څه اظها رنظر وکړی او دشرکت دایرکتر کولای شی چی آظهارنظرکونکی ورتی یاهغه تهد ید کړی اویا هغه کولای شی چی دهغه سره ډیر وحشیا نه برخورد وکړی بی له دی چی هغه د کوم مسولیت احسا س وکړی نو په دي ډول سره ویلی شو چي سرمایه داری په واقیعت کی د توتي توتي شوی توتا لیتا ریزم یو شکل دی او دا ځکه چی خصوصی انحصا رکونکی اشخاص یا کسان په تطبیقی بڼی سره دتولنی پر ټولو اړخونو باندی خپل نفوذ چلوی چی په واقعیت کی دهغه همدغه انحصاری قدرت دتولنی ضروری زیربنا یی بنستونه او ا سا س را جوړوی. کوم چی هرڅومره زیات انحصا ر کونکی اووسی په همغه اندازه د دولت سره نژدیوالی او همخوا نی لری د توتالتاریزم توتي توتي کیدل او خطرناک کیدل په نها یت کی ممکن دی چي د (لیبرتاریا نو طلای عصر یا « Millenium ») لاسته راشي کوم چي په هغه کی تول مخا لف قوتونه لکه کارګری اتحادیی ، له بیخه وویستل شی او تول جمیعت د شرکتونو په اختیا رکی ور ولویږی اود ځنی کسا نو په وینا سره په تام اود خوشحا ل کو نکی آزادی په فضا کی سره اووسی .

## د«انقلابی آزادي» مفهوم :

په هرصورت دموضوع دبیا پیلولو اودهغه دوام دپاره **لارسون** حق په جانب دي چې په تولنه کي د پیسو تمرکز د یومنا سب او منطقی پرمختګ په توګه سره ونبیي چې د نوروپانګوالانوسره په رقا بت د سنتی یا دودیز بشپړفردی آزادی سره د پیسی مرکزی قدرت منفصل اویا معا ف کړي ، کوم چي لکه **هیا ک** د بیلګي په بڼه سره ادعا کوی چې په یو«رقا بتي تولنه » کي ( انتزاع او کشمکش بی مفهوم دي او ګڼ شمیر تولني کولی شی چې «رقابتی» اووسی ) اوهیڅوک زیا ت قد رت ونشی لرلی ترهغه پوری چې اموال او کالی دهغه د صاحبا نو تر مینځ ونه ویشل شي نو په دی اسا س هیڅ یو دهغوڅخه په مستقل بڼی سره څه اقدام نشی کولی اود هیڅا موقف اودهغه درآمد (Incom) نشی تاکلی نو کله چي دغه ملکیت (property) دڅو محدودومالکا نو په مینځ کی سره وویشل شی نو په هغه صورت کی بیا دغه افراد کولای شی چي د نورو موقف او عاید وتا کي لکه مثبت آزادی ته لاس رسی اوهغه هم دخیل ګټی دپاره دنورو دکتو په مقابل کی پردولت باندی تسلط چي په نتیجه کی حتی کیدای شی چی افراد خپل مثبت آزادی څه چی خپل منفی آزادی به هم دلاسه ورکړی که چیری ثروتمندان وشی کړلی چی یولړ قوانین رامینځته کړی چي په هغه کی دبیان دآزادی حق به هم د مینځه تللی وی اوهم دمخا لفا نو آزادی په بشپړ بڼی سره به سلب شی.

بله موضوع داچې په کلی توګه اوبی له کوم تذکر څخه وایي چې «مثبت آزادي» دستاسی دڅه مبلغ پیسی سره په تنا سب کی دی کوم چی دا موضوع په ظاهره کی اکثر آزدیخواهان خپه او متا ثر کوی یا په تا ثر کی اچوی اوهغه داچې تاسی چی فقیر یا ستی اوځا ن ته د کا راود کا رفرما دمیند لو وسه نه لری ( دکار په با زار کی په مفت اودواطلبانه اوغیر قابل اجتناب بڼی سره )نو په هغه صورت کی تاسی نشی کولای چي غذا یا ډوډی وخوری یا یو څه بنه اویا بد ژوند ولری نو په هغه صورت کی زه هیله من یم چی که دتا سی سره خیریه اوخصوصی سازما نونو یا نها دونه یو څه مرسته وکړی او په غیر دهغه صورت ، جا معه په کلی بڼی سره مسولیت نه لری چی له تا سی څخه مراقبت وکړی نو په قطعی ډول سره تا سی دژوند کولو (یا کور ، غذا صحی مراقبتونه زده کړی و نورحقونه ولری ) دلرلو حق نه لری یواځی کوم چي تا سی کولای شی چې حق ولری یا حق وجود لری هغه دادی چي دنورو له خوا ( یواځی دکار په محل کی) تاسی تر تعارض لاندی ونه اوسی ، لذا په پوره عظمت سره اخلاقی لړ لید څه دي ؟

آزادیخواهان (Libertarians) سره اعتراف کوی چې د ثروت یا د شتمنی تمرکز د پا نګوالي په نظا م کی رامینځته کیږی اما دغه نظر چي سرمایه داری درقا بتی بازار په تیولو اشکا لو لکه **اولیګو پولي** (oligopolies) **ا نحصا رات** (monopoly) او **مونوسوپنی** ( monopsony = یو خرید ار د یوشمیر پلورونکو په مقا بل کی قرار

لری چی د پیرید لویا را نیولو انحصاری قد رت په لاس کی ولری ) لکه ( د **والما ر شرکت**) باندی په غلبه کولو سره منجر کیږی. له مینځه وړی ، البته چي په ظاهر کي دغه حالات ددولت په د خا لت سره رامینځته کیږی اما زیا ت تجا ران او څیرونکي د ا قتصا د د ا همیت په پا م کی لرلوسره د نظر دا ختلا فا تو اندازه اومقیا س لری .
دراکړی ورکړي مشهور مورخ **الفرید چا ند لر** (Alfred Chandler) وښوول یو شمیر زیا ت صنا یع ډیر شد یدا د ا قتصا دی مقیا س پر بنسټ په انحصاری مقیاس باندی سره تبد یل شوی دي ، **داګلاس داود** (Douglas Dowd) تاریخ پوه وایي چي په وسیع مقیاس سره صنعتی تکنولوژی ته ضرورت لید ل کیږي چي شرکتونه وشی کړلی چي پخپله با زارکنترول کړي ، حال داچي **استوکین** (Steve Keen) استرلیایی اقتصاد پوه په دی با ور دي یا دا سی استدلال کوی چی د پیسو بیرته ستنیدو(افزایش بازده) معنی دادی چی رقابتی بازر بی ثبا ته شوی اودا به یو وخت (اولیګو پولی یا انحصا ر ) کیږي .
**لارسون** ممکن دی چی د خپل بحث په دوام کی په دی ټینګا ر وکړی چی پا نګوالي په څه مقیا س سره د بازار پرنظم یعنی (آزاد بازار) باندی په دوامدار بني سره د خپل تسلط په لټه کي په هڅی او اند کی وي یعنی هغوی دپراخ تبلیغاتی ماشین پواسطه سره دخپلو رقیبانو څه دجذب کولو اویا څه دتخریبول دپاره په تبلیغات لاس پوری کوي اوپه بازارکی دقیمتونو تنظیم اود توافق په نورو اشکالو باندی فکر کوی اودسلونو تجاری انجمنونو(موسسات) دتشکیل اودجوړیدو په اړین خپل وا سواس ښکا ره کوی .

## د تاریخ پوه **ګا بریل کلکوس**(Gabriel Kolkos) کلاسیک څیړنه

## د محا فظه کارو په بریالیتوب کي :د ا مریکی د تاریخ تفسیر **(1916-1900)**

روښنا نه کړ یا وښودل چی د با زار هرج ومرج څخه کرکه څومره زیا ت شد ید دي کوم چي **ایرا اولیګوپولیستس** (Era Oligopolists) د بیرته پا تی زما نی یا دوران څخه په واقیعت کی دصنعت په برخه کي ددولت د تنظیما تواصلی قوتونه (چی دراکړی ورکړی یا د تجا رانو د ګټی په لټه کی دي نه دعا مه خلکو د ګټی ) دي. یعنی دوی دځنو قوانینودڅیړنو په کار وبار کی ( لکه په کال «۱۹۰۶» کی دغوښی ، دخا لص غذ ا یي موادو دمخدره موادو دفدرال دزیرمی ، د کلایټون د ضد کنترول او دفدرال د تجا رت دکمیسیون د قوانینو بررسی او څیړني کي) مشغولتیا لری ............. **اندرکارنګی** (Andrew Carnegie ) او **البرت هری ګری** (Elbert H. Gary) دمتحده ایالاتو د فولادوریس حتی چي ددولت له قیمت ګذاری څخه پوره ملا تړوکړل ، چي دا د ډیرو شرکتونو د پا ره یو لړداسی بی جوړه او بی نظیر تبلیغا ت دی چی تر سره کیږی .
اوهغه داچی دغه با زارونه څومره بی جوړه با زارونه دی .
که چیری حکومتی مقررات په عمده توګه دانحصا ری عنا صرو مسول وی لکه

ځنګه چي **فريد من** او **هيا ک پری** بحث کوی نو تا سو فکر کوی چی تخريب شوی سونامی د نيوليبرال له دوران څخه په ا قتصا د کي شا يد په دی منجر شی چی په سيا لی اورقا بت کی زيا توالی راشي آيا همداسی؟ اما نه ډير دقيق ،**لارسون** د **فوربيس** (Forbes) ديو مقا لی څخه دا سی نقل کوي :

له هغه راهيسی چي په کا ل (۱۹۸۰) کی دباروړلو داورګاډی پيټلی ويجاړ شو ، نو دلويو نامتو دريل پيټلی شمير له (۴۰) څخه (۷) ته را ټيټ شو چی اوس په حقيقت کی يواځی څلور لوی ابر قدرت له (۹۰) سلنه څخه ددی صنعت عوايد تر لاسه کوی اوداځکه چي يو پر دريم بارونه يا محمولی يواځی داورګاډی دپيټلی د يو پټلی پواسطه سره انتقال ورکول کيږی .

په صنعت کی ځنی بورږنونکی نمونی هم وجود لری ، له کال (1996) کی کله چي د مخا براتو د تنظيمولو قا نون او مقررات له مينځه لاړ او صنعت ته د سيا لی اود رقابت لاره پرانيستل شو نود **والستريت ژورنال** په قول سره هغه څه چي تر سره شو د کبيل (Cable) پرصنعت باندی دتسلط نوی مرحله رامينځته شو داسی يو صنعت چي بيا وروسته په يو لوی شرکت واغوښتل او يوی کورنی پوری تعلق ونيول چی بيا همدغه صنعت د ګټی دتر لاسه کولو له نظره جها نی شهرت ترلاسه کړل کوم چي د نړی سرا سری ميد يا پر هغه با ندی خپل نظريا ت خپور کړل .

همدغه شان همغږی يا ا نضما م دهوايي کرښو په صنعت کی مونډل کيږی چيری چي له قوانيونو څخه سرغړونه د (يوالی تجمع ) مينځته راولي (همغسی چي دژورنال خپرونی ياداشت ورکوی) دزبر ځواکو ديو لنډ فهرست رامينځته کول يا تنظيمول په دی مفهوم چی مصرف کونکی قميتونه اويا نرخونه ورکوی نو په واقيعت کی په ښه شان سره پيژند ل شوی چی د مقرارتو نه مراعات کول يا نه په نظر کی نيول له (۱۹۸۰) لسيزی څخه د ادغام اود پيريد لو ځيپي (موج) را آسا نه کړي دي ( په ورته بنی سره لوی راکړی ورکړی اوبيا وروسته سره ادغام ) دطلای عصر له زمانی څخه دمقرراتو عمومی کميسيون تول دغه دبازار له خوا دپرمخ بيولو بيلا بيلوالی په واقيعت کی د مصرف کونکو آزادی يا دهر چا آزادی دی ، اما په کسراتو کی د شتمنو برخه يواځی يو سلنه جوړوی .

د رسنيواود اړيکو په برخه کی خبری کول دکلاسيک ليبراتاريا نو (Liberatarians) يوه بله تش ادعا دي ، اوهغه داچي هغوی دمعلوما تواود بډا نظريودسيا لی او يا درقا بتی تنوع څخه ډ ډه کوی ، کوم چي دآزاد با زارد نظريا تو او معلوما تود منا بعو محدودولو ته تمايل لری لکه هغسی چي **هيا ک** د توتا لتا ری حکومتونو په اړين ليکي : حقيقی (کليمه) د خپل زاړه معنی له ياده ا يستلی ، دا نو کوم بل شی نه را زيږوی چی فردی وجدان ديو **داور** په توګه وپيژند ل شی . دا دواک پواسطه سره اداره کيږی. دحقيقت په نظرکی نيولو سره مينځ ته راځی کوم چی د حقيقت په اړين دبشپړ بد بينی روحي

سره د حقیقت معنی اومفهوم دلاسه ورکول آسان دی چي فکر وکړی کوم چي هغه په متحده ایالاتو کي جمعی رسنی (میدیا) په شد ت سره پانګوالی توصیف کوي اوهغه هم دیو شي دپاره چي داقتصاد دمقیاس اودبازار نور دینامیک (Dynamic) د زمان په تیریدو سره لړ افراد او ډلی (ګروپونه) کولای شی چی دکار داجرا دپاره یو بریالي او ګټی راوړونکي ورځپا نی په کا رواچوی په (۲۱) قرن کی دغرب په سرتا سری کی بالاخره د کا رګری طبقی ورځپا نی چي د سرما یه داری د جمعی رسنیو په پرتله لږ منابعو ته لاس رسی لري اود اطلاعا تو له لاری چي هغه داکثرو خلکو له خوا محدود کیدل له مینځه ځی .

نو په دي ډول لیکونکو او څیړونکو دیو ډیر مهم څیړنی اود مطالعی څخه دي پایلي ته ورسیدل چي دبازار قوتونه دیو اشرافی دولت د ملاتړ پواسطه سره ځنی پرځوونکی او سرکوبګرانه اقد اما ت تر سره کوی .

تا سی په دي لاندنی انځور کی چي یوه پیمخي انجلی سورجامی په تن کړی اودهغه په لاس کی سګرت دی دا یوډول تبلیغی برخوردی کوم چي د (Lucky Strike) شرکت ما رک د **نیکولوس ما ری** (Nickolas Muray) عکا س پواسطه سره د **برنیس** (Bernays) په نوم را لیږل شوی چی د سګرت دخرڅولو با زار ددغه ښځینه په ادا اومسکا سره ګرم کړی او سګرت څکول تبلیغ کړي .



په عین حا ل کي د با زار د تبلیغا تو د کچي په پراخیدو سره اطلاعاتی سرچینی لږ او مستقل شول ، ا وخپله تبلیغ کونکی په مستقل بڼی سره حقوق قدرت لاسته راوړل ځکه چی بی دهغو دملا تړ څخه ورځپا نی داقتصادی مرستی له مخی دقبول وړ نه وه یا نشو چلید لي لکه همغسی چی **ادوارد هرما ن** (Edward Herman) وایي :

دا وروستی پیرودونکی نه دي بلکه دا د تبلیغ کونکوانتخاب دی کوم چی د رسنی (مید یا)

سوکا لي او بقا تاکي او له همدی امله په دی توګه سره د اخبار اود نظریا تو پر محتویا تو با ندی په پراخه اندازه سره خبری اتری کول دي - سربیره پر دغه دویلو وړ مطلب داچی ډیر لوی شرکتونه ددغه رسنیو سره خپل غټ کمکونه ترسره کوي کوم چی هغه هم دتبلیغ کونکو ګټه په نظرکی سا تي – نو په پا یله کی دی نتیجی ته رسیږو چی د **فرید من** شعا رمنحصر په فرد ټاکنه لږ اونه هم د **ادوارد برنایز** (E.Bernays) دآزاد شعار تصور او دا ځکه چي مونږ خپله ټاکو یا انتخابوو ( اوهغه په دی د لیل چی زمونږ انتخاب له هغه څه محدود دی کوم چی مونږ دیو وړه زاویی دلاری څخه ددولت مرستی او تبلیغاتو ته ګورو ) .

سرمایه داری دآزادی په وړاندي هم لرونکی د(سیاسی آزادی) فصل اوهم د راتلوکو آزاد نسل دپاره دآزادی څخه خبری له هغه څه کوم چي په سرمایه داری نظام کی اصلاً وجود نه لری کوی اوداځکه چي راتلونکی نسلونو پیسی او پا نګي نه لری نوپه دی شان سره هغوی قدرت هم نه لري هغوی باید دبا زاردهر ډول جانبی عواقبو دګتی دتر لاسه کولو د پاره لکه دخپلو نیکه ګا نو په شان کوم چی هغوی د سرمایه داری له منحنی څخه څه ترلاسه کول په انتظار کي اووسی دهغی عواقبو له جملی څخه لکه دتمدن ویجاړیدل دځمکي دزیات ګرمی څخه ، کوم چی یوه غټه بی نظمی دي ، حتی په اوسنی پړاو کی لکه هغسی چی بین المللی صندوق (IMF) داسی اټکل کړي چی خارجی مصارفات یا پانګي هغه هم دلرغونی زمانی دحیواناتو اودنباتاتو پاتی شوني ( فوسیل فیول ) انرژی اودچا پیریال دفکتورونو اغیزی پر ژوند باندي په اوسنی حالت کی په کال (۵) تریلیون دالر اټکل شوی دي او سره ددی بیاهم دهغو کسانو دپاره کوم چی دهغو د ماغذه څو عصبی حجری لاتراوسه پوری کا کولای شی وبه نبیی چي بازارونه واقعاً په کار نه دي اوبیا په ځانګړی بنی دعمده کالیو اودشتمنیو په اړه کوم چی په با زار کی موجود دی اویا پرهغو باندی خبری اتری او معاملی ترسره کیږي لکه : لاری ، پلونه ، صحی سیستمونه ، عمومی پرکونه ، کتابخاني ، علمی تحقیقاتی انستیتوتونه، دعمومی زده کړی تسهیلات اودعامه خلکو دسوکالی برنامي – دلته سوال دا دی چی آیا **فرید من** او **هیاک** په دی مواردو کی تم کیږی او یوڅه فکر کوی اویا که نه ؟ په هرصورت **هیاک** خپل یو اروپایی مخاطب ته لیکی کوم چي هغه مجبوره وه چي هغه ته اعتراف وکړي کوم چي هغه هم منطقی دي نو هغه یعنی **هیا ک** ولیکل : دسیا لی اود رقابت ساتنه (نه) دیو پراخ تولنیز خدماتی سیستم سره نا سا زګا ر او یا مخا لف دی بلکه بی له شکه د دولت دفعا لیتونو دزمینی دبرابرولو سره هم نا سازګاردی یعنی ددولت سره دفعالیتونو دترسره کولوڅخه ډډه کوی په هرصورت دا خود د پا م یو وړ امتیا ز دی یعنی په ظاهر کي «آزادی خواهي » کوم چی ډیر سازګا ر هم نه دی .

د**فرید من** له نظره عامه توکي (کا لی) باید دهغوکسا نو له خوا وکارول شی یا دهغو په خدمت کی ولویږی چی دهغی استفادی ته ضرورت لری یا له هغه څخه کار اخلي او

نه د هغه د بډايان لږ اقليت کوم چې دهغو دغوښتنې په مقا بل کې له هغو څخه ما ليا ت اخيستل کيږي هغه وايي په نړۍ کې دمرستې کولو له لحا ظه تول موجوده تفا ونونه دوه ډول دي چې ددولت له خوا ترسره کيږي . لمړي : (۹۰) په سلو کې مونږ د ځان سره په دې موا فق يا ستو چې دمالياتو له پيسوڅخه (۱۰) سلنه خلکو سره مرسته وشي دوم : (۸۰) سلنه نور په دې نظر دي چې با يد د (۱۰) سلنې په مقيا س پر شتمنو باندې ما ليا ت را تيت شي ، ځکه چې هغوی (۱۰) سلنه مرستې تر سره کړې دې نو په دې شکل سره بايد چې شتمني او بډايان ما ليه ورنکړي او دا ځکه چې دوی له هغه خد ما تو څخه مستقيماً ګټې نه تر لاسه کوی پس مونږ نه با يد له هغو خلکو څخه چې زيات آزادی لري ( هغه قدرت چې ليبرالتاريانولری اونه غواړي چې خپل قدرت دلاسه ورکړي) له هغو څخه آزادی کمه نکړو له هغو نه چې ډ ير آزادی هغو ته ورکړو چې کمه مثبت آزادی لرل . نو دا به يو ناخوښه اوغير قابل تحسين انګيزه وی .

**لارسون** دخپل کتاب په اکثرو فصلونو کې د سيا سی آزادي په مورد کې ډ ير سا لم يا دونې کړې دې او هغه توضيح ورکړی چې د امريکې د متحده ايالاتو سرما يه داری څرنګه کا رونه ترسره کوي **لارسون د توما س فرګيوسن** (Thomas Ferguson) دهغه تيوری څخه کوم چې توماس دسرمايه داری د حزبونو د سيا لی يا درقا بت په مورد کې نظر ورکړې دا سې نقل کوی او هغه داچې سرمايه داری نظام د خلکو مثبت اومنفی آزادی دمينځه وړلو دپاره تر خپل وسی پوری ګامونه اوچتوی ، طبقاتې شخړی او جګړی ته لمن وهي ، دتعصب له مخې اتحاديې له مينځه وړی ، دنړی وال وجهی صندوق دغير قانونې ظالمانه پروګرامونو ( کوم چې دخلکو دآزادی دکمولو اودمينځه وړلو يو نوی عامل دی ) ته وده ورکوي .داروپا اود امريکې امپرياليزم اصلی اجندا او کړنلارې د نړی په سر تا سر کې يو شوم ميراڅ دی چې خلکو ته ستونزی را زيږوی.

که لوستونکې غواړی چې د بشريت د تياره راتلونکې په مورد کې کوم چې امپرياليزم غواړی بشر فاجعې ته ورسم کړی نو په هغه صورت کې کولای شی چې **دويليهيم بلوم** (William Blums) د (Killing Hop) تر نا مه لاندې اثر د **ناومې کلاين** (Naomi Kleins) د( شاک دوکترين ) اثر او هم ( **دفريد من** اود **هيا ک** دځوبنې نظريې دلاتين امريکا د نوی نازی جنرالانو په هکله ليکنې) – د **رابرت فسک** (R,Fisk) اثر ( لويه جګړه د تمد ن د پاره ) اود **نوام چامسکې** زياتې مقا لې ولولې، ددغو ټولو کړنلارو او پا ليسيو په رڼا چې د لويد يځ د با زار د ډينا ميک اقتصا د څخه په مستقيم اويا غير مستقم بڼې سره رامينځته شوی ، استد لال کوی چې سرمايه داری دبشر آزادی ته ارتقا ورکوی حال داچې د مجرمو قدرتمندانو يو نا خوش آيند تقليدی فکر او اند ييښنه دي .

که چيرې په نظر مو دغه قضاوت ډيرسخت اوسختګيرانه وی نو دغه حقيقت له

**هیاک** (Hayek) څخه دهغه اقداماتو په مورد کی چی د کارگرانو د امنیت د اطمینان یا د ډاډ په اړین دی نظر واچوي اودا ډیر ضروری بریښی چي مونږ باید په حقیقت کی ددی ریښتیني او ښکاره حقیقت سره مخامخ شو تر څو چی دی واقیعت ته ورسیږو چي دآزادی پرآرزش باند پوه شو اودآزادی د ساتلو دپاره باید هغه کسا ن ولرو چی زمونږ دآزادی دساتلو دپاره قربا ني ورکوی کوم چي دغه کسان دکارکر طبقه دی چي په شد ت سره د سرمایه داری نظام د ساتلو د پا ره قربا نی ورکوي .

په حقیقت کی تردغه حده پوری چي مونږ آزادی او دموکرا سی لرو داپه عمده بڼی سره دخلکو دلسیزو اود پیړیو نه ستړی کید ونکی مبا رزه د پا نګوالی د تولید د شیوی د سیا ست (له هغه جملی څخه دبرده داری دتولید شیوه اود لاتینی امریکا د نیمه فیودالی دتولید شیوه ) په مقابل کی دی کوم چی داپخپله داقتصاد سرمایه داری دپاره یو ضروری حالت شمیرل کیږی کوم چی د دی حقیقت په مورد کی د **گورین تیربورن** ( Goran Therborn) کلا سیک داستان ( د سرما یه داری قا نون اود دموکراسی ظهور) زیا ت جزیا ت په لاس کی ورکوی لکه همغسی د لوستلو وړ دی لکه چی د **هوارد زین** (Howard Zinn) تا ریخ په امریکا کی ډیر محبوب او ډیر لوستونکي لری .

**لارسون** وروسته له هغه چی دیو ډلی شارلتانانو اود احمقا نو نظریا ت بیا له سره وکتل نو په دی باور شو : چی متمرکز قدرت دانسان د آزادی سره مخا لف دي ، نو هغه دخپل کتاب په اخر فصل کی د سوسیا لیزم په نظام کی پر آزادی باندی په اختصاصی بڼی سره زیا ت ړڼا اچولی دی ، اما دلته باید چی دیوشمیرلیکوالو لکه د **انتون پنیکویک** (Anton Pannekoek) ، **رود لف روکر** (Rodolf Rocker) **پیتر کروپوکین** (Peter Kropokin) **ایریکو مالاتیستا** (Errico Malatesta) **موری بوک چاین** (Murray Bookchin) او نوروباندی دانا رشیستی اویا دچپ مارکسیستی دود، یا سنت ته اشاره وکړو اودا ځکه چي په دی ورځو کی پر سوسیا لیزم باندي ډیری خبری اتری کیږي ، اما یومفسر ( بی له کین اړخو څخه ) پوهیږی چي هغوی پر څه باندی خبری کوی دبیلګی په بڼه **هیاک** او **فریدمن** تمایل لری چی سوسیا لیزم داقتدار گرا دولت په دولتی کنترول سره لکه د شوری اتحاد د دولت په شا ن او یا د نورو خیا ل پردازانو (Bogeyman) په شا ن په ورته بڼی سره وګڼی اویا سره یو شا نته کړی کوم چی دا ډول برخورد پخپله دواقیعت څخه تیښته دی کوم چي انا رشیسم ، حکومتونه را پا روی کوم چی سوسیالیسم ته متعهد دی ، تقریباً ټول اصلی تفسیرونه دسوسیا لیزم په موردکی خځلی ( Garbage) دي او بلا فاصله دهغه مورد له کتنی څخه منصرف اویا هغه یی رد کړ ، اساسی نکته کوم چي محافظه کاران ،متخصصان او لیبرالان دهغه څخه په اشاره خبری کوي اوهغو ته ډیر جذاب په نظر راځی دادی چی هغوی وایي چي سوسیالیزم په ټولنه کي بی دکارګر طبقی له کنترول اونظارت څخه مفهوم نه لری ، اقتصا د ، سیا ست اوسوسیا ل دموکراسی اسا سأ داخلاقی اصولو مجموعه دي.

چي دنظری له لحاظه په مختلفو ډولونو دتفریق وړ دي مثلاً دبازار دپاره د یو محل یا دیوځای سا تنه ، اونور ټول د دموکراتیک اټکل له مخی یا د د موکراتیک پر اسا س دبرنامی( دمحل ، ټولني ، ښا ر ،ملت اونور ) جوړونه ، دسوسیا لیزم هسته آزادی دي د متمرکز قد رت نشتوالی مطلق برابری نه دي.

دا چي آیا ریښتیا او واقعاً سوسیا لیستی ټولنه به وجود ولری ، دا نو یوه سرخلاصه پوښتنه دي ؟ اما ځنی ټولني ددی نظرسره نسبت ونورو ته ډیرنژدی اوځانګړي نژدیوالی لری ، کوم چي شوروی اتحاد اودامریکی متحده ایالات له سوسیا لیزم څخه ډیر لیری دي حال داچي بیا « **اسکا ندا نیا وی»** هیوادونه له شوروی اتحا د اودامریکی څخه ، سوسیالیزم ته یو څه نژدیوالی لري ( ځکه دهغه ملکونو خلک نظر امریکی او شوروی څخه زیات آزادی لري) دبولیوی دکال (۲۰۰۹) اساسی قانون کاملاً سوسیا لیستی نظام قانون ته ورته والی لری یعنی اخلاق او انسانی کرامت ته درناوی کوم چی دامریکی دارتجاعی قانو په پرتله ډیر اوچت قانون دي – دلته په وړه مقیاس سره که تاسی دغه کتاب کی د کا رګری ا تحا د یی تما یل ته وګوری تاسو ته به را څرګند شی چی دغه کارګری اتحادیی هغه څه چي ددی هیواد په اسا سی قانون کی یو وړه سیستم ته چي په هغه کي ټول انسا نی موضوعا تو ته پام اړول شوی دی دوی غواړی چي هغه وړه سیستم لا پسی په یوه لوی اوسرتا سری سیستم باندی واړوی.

په پای کی په ظاهره دا سی ښکا ری چی **فریدمن او هیا ک** دیو آزادی بخښونکی پروګرام په تحقق او انطبا ق کی یو څه مرسته کوي ، ګرچه په غیر مستقیم بڼی سره دیو مستقل نظام د ودی دپاره ممکن دی چی دهغوی د همد ی هڅه او اند په رڼا کي دیو دموکراتیک اپوزیسون دچټک ایجاد دپاره مرسته وی ترڅو چي داستبد ا د ستنی اویا پایی ونړوی اودآزاد نړي د پا ره زمینه برابره کړي یعنی حد اقل هغه نړي ته کوم چی **فرید من** او**هیا ک** نشی کیدلای چي فکری او اند ییښنوی شخصیتونه اووسی په اوسنی حالات کی زه غواړم چی ددی ستونزی د حل وفصل لاری را پیدا کړم .

**دلیکونکي په اړه څو کرښی**: کرس ورایت د شیکا ګو له پوهنتون څخه د امریکي په تاریخ کی د دوکتورا د ډیپلوم لری اوهغه د ا نسا نی اندر ګرونډ (UNDERGROUND) ترعنوان زیات یاداشتونه اومقا لی لیکلی اود هغه نور لیکنی ، دکوپراتیفی کارمندانو انقلاب ، په امریکي کی دتاریخ فرصتونه ، په یو بحرانی ټولنه کی نظارت اوځنی نوری مقالی او لیکنی دهغه سایت دادي :

WWW.WRIGHTSWRITING.COM

----------------------------------- **په درناوی (20-08-2018)**